په کندهار کې د استاد محمد صدیق پسرلي د سیمنار په ویاړ

زهره

محمد صدیق پسرلی

۱۳۸۴، پسرلی

زهره

PROPERTY OF ARIC KABUL

PROPERTY OF ACKU 12882

محمد صدیق پسرلی

۱۳۸۴، وری

فروشگاه کتاب علامه (حبیبی)
مرکز فروش، پخش و نشر کتاب
چهارراهی صدارت کابل - افغانستان
P.O. Box 616 Mobi 070-217766

کتاب پېژندنه:

نوم: زهره
ويناوال: محمد صديق پسرلی
www.pasarlay.com
خپروونکی: داستانونه
www.dastanona.com
dastanoona@hotmail.com
د خپرونو شمېره: شپږ
کمپوز: ايينه، افغان مطبوعاتي او فرهنگي مرکز، کابل
اوډونکی: گوربت
لومړی چاپ: ۱۳۶۹ل،
د لومړ چاپ شمېر: پينځه سوه ټوکه
دويم چاپ: ۱۴۸۴ وری
د دويم چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

بسم الله الرحمن الرحيم

تړون

د هغو مظلومانو په نوم د چا د سرونو جمجمې چې لا اوس هم په لارو، کوڅو کې د ميرانو – مير بچه ګانو په لنډۍ باچهۍ او د هغوی د بريڅو په لنډو منډو پورې په وازه خوله خاندي...

د هغو ستم زده ګانو په ياد، چې د ظالمانو په حصارونو کې ورنه د خښتو – تيږو کار اخيستل شوی، ژوندي ښخ شوي او د قساوت د بې بنيادو حصارونو له چاک – چولې نه اوس هم غانښ چيچې کوي...

د هغو پيغلو – ناويو په نوم، چې د هوا – هوس مريانو په بې انتها بې رحمۍ درويلې او سرتورې کړې دي...

د هغو کونډو – رنډو، بورو – ورارو د سويو ساندو او ګرمو اوښکو په ياد، چې د ژوند ملګري او د زړه ستنې يې د محلي چنګېزانو د اسونو تر پښو لاندې ليدلې او سرونه يې د اقتدار د ميناتو، د دنګو کله منارونو په پخڅو کې ايښي شوي دي... دا څو پاڼې منسوبوم.

بسم الله الرحمن الرحیم

یادونه

دا کیسـه مـې هغـه وخـت لیکلـې وه چـې غمونـه او دردونه په شمار وو او د یوې فاجعې نکلونه به په کلونو کلونو خوله په خوله ګرځېدل. نن سبا زموږ په وطن کې د غم اوښ هر کاله ته چوک شوی دی او له هره کوره د غم چیغې اورېدلې کېږي.

اوس خو د سرو وینـې څښـونکو لـه لاسـه پـه درست افغانستان کې نه روغ کلی – کور پاته دی، نه روغ زړه او دماغ، هره ورځ قتل عام وي او هره لحظه بمباري وي، د دردونو په هجوم کې د احساس له خاوندانو څخه د درد ځای ورک شي، نه پوهېږي لومړی په چا وژاړي، او اولتر کوم وحشت انځور کړي؟

شاعر وایي:

مجنون به ریگ بادیه غمهای دل شمرد
یاد آن زمانه ی که غم دل حساب داشت.

رښتیا وایي، غمونه چې له حسابه ووځي، دردونه چې له اندازې وتلي وي، وحشت او بربریت چې په تصور کې هم نه ځایېږي، اوښکې وچوي او د فریاد مری نیسي

چې زړه له جوشه نه وي لوېدلی. چې غمونه لېږ څه نه وي تـه نشـين شـوي، چې فکرونـه لکـه بوتېـدلي بمبـرې بېرته نه وي کښېنستي، په او سنو پېښو د ادبي اثر ليکل ګران کار دی، که يې بـل څوک وليکي زه خو يې نه شم ليکلای.

که څه هم د "زهرې" چاپول فعلاً څه دومره ضروري کار نه و، نن بايد د نن خبرې خپرې شي، خو ځينې علتونو او مشابهتونو دې کار ته ؤلمسولم.

مثلاً:

کـه پـرون د چا د سرونو جمجمو پـه لارو- کوڅـو، د ميرانو -ميـر بچـه ګـانو پـه لنډی باچهی پـوري او يـا د هغوی د نوکرانو په لنډو منډو پورې په وازه خولـه خنـدل -نن هم د افغـان مظلوم ولـس تـازه پرهرونـه د يرغلګرو روسانو په زور -زياتي پورې خاندي.

کــه پــرون د ظالمــانو پــه حصــارونو کـې لـه ژونـدو انسانانو د تيرو او ښتو کار اخيست کېدو او د ژوندو ښخ شويو سوليدلو کوپريو د حصارونو له چاک -چولو غانښ چيچي کاوه، نن هم خوړې او شيلې زموږ د زلمو په مړو ډکې دي او پـه زرګونو ژونـدي بنيادمـان د سولې د ټېکـه دارانـو او د هغـوی د غلامـانو لـه خـوا ژونـدي تـر خاورو لاندې ښخ شوي او ښخېږي.

که پرون په سلګونو خويندې -ميندې د چا د شخصي خصومت په لمسه سرتورې، بورې او ورارې شوې، نن هره ورځ پـه زرګونـو افغـاني مېرمنـې د وحشي نظام د قصابانو له لاسه د زړه تکيه له لاسه ورکوي.

که پېرون د مير د زړه لپاره د "چادرۍ" يو بسيا کلی د خاورو په کوټه بدل شو - نن روغ افغانستان د "کريملين" د ناټکۍ لپاره تالا - ترغی کېږي.

نو، که دا کيسه ننني کيسه نه ده، د ننيو زرګونو فاجعو يوې وړې کيسې ته خو څه قدر ورته والی لري.

دا کيسه هم د وحشت او بربريت کيسه ده چې يوه اباده سيمه د ظالمانو له لاسه په خرابه بدلېږي. په دې کيسه کې هم ګڼ شمېر بې ګناه اولس د زور - زياتي له امله له وطن څخه لېږد ته مجبورېږي او د "امو" پورې غاړې ته د مرميو په باران کې پناه ور وړي، چې هالـه لا د روسانو ناولي پلونه نه وو ورباندې ابښی شوي.

په دې کيسه کې هم د وخت زورور خپلو ناجايزو ته جواز مومي او پړه په مظلومانو اچوي، لکه دا اوس چې هم مو وژني هم راباندې سل نومونه ږدي.

علاوتاً هيله کوم چې دا اثر به د ځوانو شاعرانو او ليکوالو زړونه وتخنوي او دې ته به يې ولمسوي چې د روانو پېښو ليدلي - کتلي په نظم يا په نثر ثبت کړي، ګوندې د بربنه او معياري آثار رامنځ ته شي.

ومن الله التوفيق

۲-۲-۱۳۶۵ پېښور

سریزه

دا کیسه چې تاسې يې لولئ، يو واقعي داستان دی. دا واقعه مې د يوه سپين ږيري له خولې اورېدلې وه، چا چې اتيا نوي ځله دا غرونه - رغونه سمسور او بيا سپېره ليدلي وو. صرف نومونه ايښي شوي دي، ځکه چې واقعي نومونه د هغه ژوندي تاريخ د زړه له پاڼو څخه د وخت او زمان وينو خوړلي او حذف کړي وو، نو څه فرق کوي "احمد" يا "محمود"، "توردي قل" يا "تاش تيمور"...."زهره" يا ممکن "تورسون"؟

دا افسانه يا نه پوهېږم واقعه، له نن نه سل- شپږ شله کاله پخوا، ياني د ديارلسمې هجري پېړۍ په لومړيو کلونو کې د "چاردرې" د وچ غره په لمنو کې د "آقشاخ" د مشهورې ويالې په غاړه پېښه شوې ده، کومې سيمې ته چې خلک نن سبا خرابه وايي.

"چاردره" د برې لويې - وړې غونډۍ لري، چې هره يوه يې د ډېرو پخوانيو پېړيو نښانه او د تېرو عظمتونو د راز برغولی ده. په هره پوله - پټي کې زاړه کودړي او پخې خښتې د يوه پاخه مدنيت علامه او د زاړه تعمير نمونه راښيي.

په هر کلي او هره خوا کې د قرنونو نښې نښانې د ړنګو خوړو - ترخو هېرو شويو دورونو خاطرې دي... هر ځای خرابې ده. لېکن په خاص طور سره دې ځای ته خرابه وايي، ممکن دا به وروستی خرابه وي چې دوړې يې لا پوره نه دي کښېنستې او لوګي يې لا د افق په څنډو کې ښکاري.

کله چې د بين المللي استعمار په لمسه د ملي غاصبانو او داخلي استعمارګرو په هڅه د تاريخي افغانستان ملي مرکز کمزوری او د ملي وحدت مزي اومړي شول، شخصي ګټو او شومو اغراضو د ځانځانۍ، نفاق، خانه جنګۍ او برهم اندازۍ په مدد په پراخ کور کې کورکي جوړ کړل او لويه امپراتوري يې په وړو وړو صوبو ووېشله. د ملوک الطوايفۍ په نامطلوب دور کې زوړ "تخارستان" (له "بلخه" تر "پاميره" پورې) د ميرانو، مير بچه ګانو د لوبو ميدان او د تاخت و تاز مرکز وګرځېد. په دې وخت کې به چارده د "کندز" د ميرانو تر مستقيمې سلطې لاندې وه، د هغوی او د هغوی د منسوبينو ناټکۍ او ملعبه وه.

دا ښار چې زموږ په داستان کې يې ذکر شوی دی وايي چې دغه ځای کې واقع و، چې نن ورته خرابه وايي، يانې د وچ غره په ختيځه لمن کې د "آقشاخ" د ويالې په غاړه.

دا کيسه د شاعر د فکر او تخيل محصول مه ګڼئ. يوه تاريخي واقعه يې وبولئ. لېکن که په تاريخونو کې نه وي ثبت شوې، تاريخ بيا کله پوره و؟ او مورخينو بيا څه

وخت د دې دورې فجايع ليکلي دي؟ چېرته چې يوه - يوه نيمه پېړۍ خودسري، بېباکي، تېرى، تجاوز، ظلم، تعدى، بې ناموسي، بدعهدي... بد ديانتي او قام دښمني هره ورځ په څو - څو شکله څرګندېږي، مورخ غريب به څه وليکي؟ او کومه واقعه به ثبت کړای شي؟...

له ډېره وخته زه په دې فکر کې وم، چې دا واقعه وليکم اما متردد وم، چې څرنګه؟ ياني د رومان په شکل، د ډرامې په ډول، د لنډ داستان په توګه؟... يا څه ور؟...

دا ځکه چې ما غوښتل "زهره" په ښه جامه کې راوباسم، ځينې ذکر شوې جامې مې ورته خوښې نه شوې او د ځينو مې سکېل نه وو زده. ارزو مې دا وه چې چېلې مطلب په تراشلو کلمو او ښتېځلو جملو افاده کړم، رومان او د شهرزاده بهرام او شهزاده ممتاز د منظومو حکايتونو جامې هم راته د مينوژوب په عصر کې ډېرې اوږدې ښکارېدې، نو دا دى د نظم يوه داسې جامه مې ور واغوستله چې نه ورته رومان ويلای شو، نه ډرامه، نه د لنډې افسانې په طرحه دى، نه د راډيو ډرام په موډ... نه د "احمد جان" د نظم شکل لري- نه د "احمد ګل"، بلکې يو معجون مرکب دى، د دا ډولو. که د "ايزمونو" په مېچه کچ شي، هم د رومانتيزم نخښې لري، هم د رياليزم. هم شايد د نورو نو:

که دې زما سلام خوښېږي
زه به دا سرې منګولې تل په تندي ږدمه

په پای کې که زما کمزورې حافظې د واقعې په اظهار کې څه نارسايي کړې وي او له ما نه په ناګاهانه توګه څه زياتی- کمی په کې راغلی وي، ببښنه غواړم او هيله کوم، که يې د تاريخ يوه شلېدلې پاڼه نه بولئ، يوه حقيقت ته نژدې افسانه خو يې وګڼئ ! ! زه ورته په خپله د ميرانو د دورې د شلېدلي زنځير يوه زنګ وهلې کړۍ وايم، نه د پسرلي شعر او د شاعر تخليق.

لوړ تخيل يې د شاعر مه ګڼه
د زړه د وينو فواره ده اشــــنا

۱۲- ۹ - ۱۳۴۸

چادره

په دې داستان کې چې کوم نومونه راغلي دي، د هغوی معرفي په لاندې ډول کېږي:

۱- زهره د توردي قل لور
۲- مه پاره د زهرې ملګرې پېغله
۳- توردي قل د زهرې پلار
۴- آی خانم د زهرې مور
۵- شهزاده مراد بېګ د کندز د میرزوی
۶- باتور د زهرې نامزد او د توردي قل وراره
۷- جوره د مه پاره نامزد
۸- یو شمېر د توردي قل خپلوان او کلیوال
۹- یو شمېر د شهزاده د ښکار ملګري او نور ګماشتګان یې
۱۰- د کندز میر
۱۱- د توردي قل خپل- خپلوان او د هغو منسوبین
۱۲- د میر افسران او لښکریې.

ګودر

د پسرلي نمازديګرۍ دی
يوه رنګينه منظره ده
د ګلونو څوانۍ ببرته
څوانه کړې "چادره" ده

کشته سره او ژړ ګلونه
سياليګر دي مېنجرو کې
انعکاس يې پاس جلوې کا
د شفق په جزيرو کې
د کواټ* د تخت د پاسه

مخملونه غوړېدلي
"د وچ غره" له وچو پرشو
هم ګلونه بوټېدلي

وربخې نوې سره خېژي
جلا کېږي غرونه - غرونه
لکه زلفې د لوبغاړو
غوړسکې غوړسکې، ولونه - لونه

رنګا رنګ غونډې شکلونه
ترې جوړېږي- بيا ورانېږي
يو رنګين روماتيک فلم
ليدل کېږي او تېرېږي

---

* د سمسورې چاردرې د قبلې ډډې ته، چې کوم جګ غر پروت دی، هغه ته "قروطو" يا "قرغ طاغ" وايي، چې په ازبکي ژبه کې د وچ غره په معنی دی. د وچ غره په ختيزه لمن کې يو شمېر غونډۍ ښکاري، چې تر ټولو لوړه يې په "تخت قباد" مشهوره ده، دا غونډۍ د نورو غونډيو پر سر له ډېره لرې ځايه د غره په غېږ کې ښکاري او ډېره نظر جلبوونکې ده. د "قباد" باچا اصلي نوم وايي "کواټ" و، چې د پېړيو په تېرېدو سره "کوی کواټ" په "کيقباد" بدل شوی دی.

آسمان ټاپې - ټاپې ښکاري
د وربځو له چولو نه
باران نوی فارغ شوی
د ښېد یا د مخ له ولو نه

پاس مبله ده، په وربځو
طلایي پلوشې ناځي
لاندې هم له لمبېدلیو
ځانګو ورو - ورو اوبه څاځي

د ورمې نرۍ نغمې ته
تاندې ځانګې شوې ورګډې
یوه له بلې خولګۍ اخلي
په نڅاکې ږدې - بډې

یو کنډک د مېږو پنډ شو
هر تامبو - هرې خرګاه ته
مېږې - ورۍ سره یو ځای شوې
بغ او بوغ دی، هرې خوا ته

"توردي قل" په مینه ګوري
خپلو مېږو - خپلو ورو ته
"آی خانم" هم لوښې واخیست
تلوسه یې ده، شیدو ته

ستري شپون، له دسترخوانه
يوه توده ډوډۍ کړه ماته
جوړه سپي يې، په ډاډه زړه
پربوتل د رمې خواته

د خرګاه پرده شوه پورته
ترې يوه حوره ووتله
د هوسۍ غوندې چالاکه
خو، له نازه زنګېدله

يوه پۍ مخې- يوه تور سترګې
چې د لمر د سترګو تور وه
ځلېدله لکه ستوری
د سپوږمۍ سکنۍ خور وه

:غه سترګه د سبا وه
"د زهرې" په نوم مشهور
د اوبو په نمط لاړه
سپينه بطه وه - که حوره

ورسره شوه يوه بله
"مه پاڼه" د دې همدمه
ګودر لرې و، له کوره
يو دوه- درې سره قدمه

چې هر کال به پسرلی شو
دوی به، کوراو کلي پربښود
د "زهرې" د حسن اور به
داغ د دښت په سینه کېښود

"سپینې مینې ورانې غواړي
په پسرلي کې مستې نجونه
شي وریادې شنې لمنې
د کېږدیو شمالونه"(*)

"زهرې" هم دغه څو ورځې
د صحرا - په ژوند ګڼلې
هم پسرلی و- هم ګلونه
هم له بنده وه وتلې

چې د لمر خېمه شوه ټوله
طلایي ماندرې یې پرې شوې
خدای خبر، د چا په وینو
د شفق لمنې سرې شوې؟

(*) د دې لنډۍ مضمون دی:
سپینې ګوتې یې کنډوالې کړې
زما یې د برې د کېږدیو شملونه

لا مستۍ او عشوې ناڅې
د ګودر په لنډه غاړه
لکه زرکې په خندا دي
"مه پاره" او "زهره دواړه"

هر څرپې او هر دربې کړي
وارخطا د جنت حوره
"مه پاره" ورپورې خاندي
چې بيا ولې شوې ترهوره؟!

زهره:
پاڅه خورې تياره کېږي
چې څوک رانه شي پر لارې
مه پاره:
هېڅوک نه شته، زه او ته يو
خپل لالی دې لاره څاري

چې هر څه په نظر در شي
واړه دی درته ښکارېږي
پام و فکر دې هورې دی
دی دې تل په زړه وربېږي

"زهرې" سترګې کړې نیمکښې
په کچه غوندې موسکا کې

زهره:
په هېنداره کې ځان وینې
دغه چارې شته په تا کې

بس چې نوم د "جوره" یاد شي
د انارو غوندې سره شې
که دې تل د زړه سر نه وي
داسې ژړ ولې کچه شې؟!

مه پاره:
په خندا یې، په اوږه لاس
چې ور کېښود وې یې: خورې
چې باتور کله تېرېږي
د خرګاه تر وت یې ګورې!

"زهره" تاو شوله له شرمه
لاس یې ټیټ کړ خپل ګړی ته
په اوبو کې یې نظر شو
نا اشنا غوندې سړي ته

لکه وربې باشه شنې شي
ورغوته شي د ښکار لور ته
د بنګړو په یوه شرنګ یې
ځان سمبال کړ – ګړی پور ته

ته وا دوه وحشي هیلۍ وې
کوم صیاد یې تر نظر شو
په یوه شنې له اوبو لاړې
په یوه شرنګ خالي ګودر شو

دوه د شتي هوسۍ له وبرې
ترهېدلې – بوربنېدلې
وارخطا په بیړه – بیړه
له ګودره وختلې...

مه پاره:
"زهرې ګلې!" تا چې ولید
کوم پردی ښکار بد – که خپل و؟
زهره:
یو بد ورګی – یو سپین سترګی
د عفت او عصمت غل و!

مه پاره:

مخ مې تور کړې څه چې موږ وې
دا به يې تول وې اوربدلي

زهره:

ليږ ګامونه در وچت کړه
لا يې سترګې راپسې ځغلې

مه پاره:

اوف، ډاربږم- زړه مې ربږدي
پل او پونده نه سمبږي

زهره:

هله، خورې، ليږ تکړه شه
لار اوږده ده، تياره کېږي

هله ژر شه- هله ژر شه
خورې ليږ په زړه لاس کېږده
ګومان کېږي پسې راغی
پل در واخله کيسې پربږده !

چې کورو ته ورننږدې شوې
رمبدلې هوسۍ دواړه

مه پاره:

اوس خو وايه، چې څوک و
د ګودر په هغه غاړه؟ !

زهره:

پوښ یې بل ور – رنګ یې بل شان
چې پېرې و ، که بشر و ؟
د لېوه غونډې یې سترګې
د غویي غونډې یې سر و

په یو څو لنډو شېبو کې
چې په دوی د پرې اوږدې شوې
د ګودر په زړه تیاره شوه
د خرګاه سترګې روڼې شوې

***

ښکار

چې تنکي ګلونه جګ شول
د "چيچال"(*) د غرو سرو ته
مستې زرکې شوې راتيتې
سرو لمنو – شنو درو ته

په نغمو ځي – په نخرو ځي
بيا د زانو بهيرونه
لکه جنګ لره زلميان ځي
يا ودو ته پېغلې نجونه

(*) د چيچال غر د چاردرې جنوب لوېديځ خوا ته پروت دی، چې د زرکو هوسيو ښکار او رنګين ځوږمنی لري
په بيديا دي، د کبليو

منډې – ترړې، هلې – ځلې
ته وا مشق کوي د منډو
چې ترهېږي، يو له بلې

چې په هر شي رموي دوی
دا موسم دی ښيدلی؟
که يې خپله کو چنيو اله
د ارام غوږ ته وړي خلي؟

د انسان هم په دې وخت کې
فطرتاً تلې تخنېږي
د سمسورې صحرا غېږ او
د غرو څوکې يې يادېږي

د کندز "د مير" زلمي زوی
هم وزر وکړه کهسار ته
ګلچيني ته – ګلګشتي ته
د هوسيو زرکو ښکار ته

PROPERTY OF ACKU 12882

نن په دې، سبا په هغه
خوږ، د ظلم اور بلېږي
دا پستي – پستې بوټي دي
د پستو په اور وريتېږي
کله رنګ په زخه کړي

ورته خاندي، چې رالوېږي
کله يې خپل نظر د غرونو
په رنګونو کې ورکېږي

د ويشتلې هوسۍ وينې
د سره ګل د مخ غازه کړي
لاله زار په تودو وينو
لاله وړاندې نه تازه کړي

په "چيچال" کې شنې لوخړې
د ټوپکو له خولو خېژي
مستې – مستې ښکلې زرکې
لکه پانې راتوييږي

په "چيچال" چې يې زړه يخ شو
د بېديا په سينه تم شول
څو بې خيره "خيرآباد" کې(۱)
په نخچيرو پسې سم شول

هغه دشتې – هاغه لمنې
چې پناه وې، د کبليو
د مستۍ او ښادۍ مېنې
چراګاه وې د کبليو

۱- خيرآباد: د چاردرې د وچ غره لوېديځ ته پروت دښت

په پسرلي، چې کال زلمی شي
زایشګاه وي د نخچیرو
ځای د منډو، د ترپکو
تعلیمګاه وي د نخچیرو

جوړ محشر شو په سیه چشمو
غلغلې دي هورې دلې
هم تازیان ورپسې تو شول
هم آسونه پسې ځغلي

چې فالتو یابوګان واړه
په نخچیرو درانه نه شول
"مرادبېګ" او قصابان یې
له ښکاره ستانه نه شول

د پسرلي مازیګری دی
څاڅکي – څاڅکي باران اوري
د ورمې سرود ته ناځي
تاندې څانګې هورې – دورې

که د لمر پلوشې ناځي
پاس د ورو په سر به ناځي
لاندې وربخ ده- پسته اور دی
پر ګلونو خولې څاځي

کله پټ – کله ښکاره شي
لمر، عجيبه منظره ده
د وچ غره په شنه لمن کې
لمبېدلي چاردره ده

لا باران نه و بس شوی
لا وره نه وو باد توښپلي
چې لمنو ته راټيټ شول
يوه غوټه سپاره – پلي

"مراد بېګ" له نورو بېل شو
چې يې وليدل کوږونه
ور په ياد شو مازيګر او –
د منګيو کتارونه

چې يوه جوړه مهو شنې
له خرګاه راووتلې
د هوس چنجو يې ژر – ژر
د زړه تلې وښتلې

يوه "زهره" يوه "مه پاره" وه
دغه يوه جوړه کوترې
چې غومبرې يې شروع کړې
په ګودر له کوره لرې

"مرادبېګ" لکه غل پټ دی
پټ د دوا ړو څخه څار کا
د واړه ښې دي، دواړه ښکلې
یو زړه، کومې یوې نه، جار کا؟

لا پوه نه وو سره څه دي
دا "زهره" او هغه بله
چې څېره یې په اوبو کې
هغې ښکلې ولید له

په یوه رپ د سترګو لاړل
د ښکلا د سترګو کسي
د هوسیو ښکاري ناست دی
په حسرت ورپسې کسي

د ماښام اورونه بل شول
په ځلا شول واړه ستوري
"مراد بېګ" لا هغه لورته
د ګودر له غاړې ګوري

وینښ - ویده او حق - حیران دی
څه ورپاته شول - څه نه شته؟
چې خپل تش کوګل ته ځیر شي
عشق ور پاته دی - زړه نه شته

عقل و زړه يې هغو وړي
کوم چې ده نه وبرېدلې
خو، يو خيال يې ور پرې ايښی -
چې وت- وت ورياد بډلې

څو اورونه ببرته ومري
د ده زړه په لوګېدو دی
هلته ګوري- هلته ګرځي
د ورک عزم په کتو دی

هلته لرې له ګوذر نه
د پرش- څلو ښت سترګې پر لار دي
له ښکارونو مړې شوي
د خپل مشر انتظار دي

يو سپور:
انتظار له حده تېر شو
"مراد بېک" نه معلومېږي
چې ورپېښه څه بلا شوه
که له چا سره لوبېږي؟

لار يې ورکه کړه خطا شو
-توره شپه – توره تياره ده
که خوندونو باندې واوښت
افسونګره "چاردره" ده؟

مازيګرو، ماسخوتن شو
هيڅ يې پته نه لګېږي
په چا پېښ، که څه ورپېښ شول
څه درک نه معلومېږي

د ګودر ښکارونه ګران وي
د زمريانو له ښکاره
د ناموس کيسه، چې راشي
مرګ مباح کړي، نر د پاره

د زلمو په عزت لوبې
لوی جرئت غواړي – لوی زړونه
په دې لاره کې چټ شوي
بې شماره جګ سرونه

څوک دې لاړ شي، څوک به ورشو
که خدای(ج) مه کړه، څه وو شوي
زموږ او تاسو به نو مير ته
بانه کومه، پلمه څه وي؟...

څه ډېر وخت نه وو تلی
تر ګودر و څرخېدله
د تورزنو زلمو غوټه
د لم غوټه سپروډله

یو سپور:
شهزاده د خدای(ج) لپاره
زموږ دې وچاودول زړونه
زموږ دې وار او پار خطا کړ
ته ساتې لوګ ګودرونه!

مرادبېګ:
ما نور پر پرېږدئ په کراره
زه د حسن مینجور شوم
تاسو پوه شئ او ښکارونه
چې زه ښکار په دې ګودر شم

واک – اختیار مې د تور سترګو
کرشمو راخخه وړی
په اوربدو – ګړو بڼو یې
ځای پر ځای یمه میخ کړی

"کندز" پاته شوله مانه
هم قصرونه – هم باغونه
نور نو زه او دغه مینه
دا د سوي زړه داغونه

یو سپوږ:
قربان! څه – څه سره وايې
دلته څه وو؟ دلته څه شته؟
کوم ښايست، کومه ادا ده؟
چې دلې وي، هلته نه شته؟!

صحرايي ښکلا بڼه، څه وي
دې شپنو نجونو، څه نه زده
په وحشيانو مينه مه کړه
ستا له قدره، هغوی څه زده؟!

دلته څه دي؟ يوه بيديا ده
تش يو څو ورځې بهار دی
یوې ساده جلوې ته ګورې
کوم د ناز او ادا ښار دی؟!...

مرادبېګ:
د رنګ – رنګ ګلونو بڼ دی
د وړ – وړ بوټو ورشو ده
د وحشي کرشمو غبړ ده
د عالي حسن زانګو ده

په جهان که وي يوه ښکلې
يا "زهره" يا "مه پاره" ده
چې دا ښکلې په کې اوسي
د زړو ځاله "چاردره" ده

خدایزده دوی به وې راغلې
د ارم له ښاپېرو نه
که د حسن ښکارندویې
د شفق له جزیرو نه؟

هسې نه، چې وي دا پېغلې
د حرم ښکلې کوترې
د شباب د هوس خوب یا
د زلما مستې سندرې

یا د هیلو ها شوخۍ چې
په خیال کې دې زنګېږي
یا د لمر سپینې وړانګې چې
لاس وړ وړې، نه نیول کېږي

چې رنګونه باندې اوري
چې ښکلا په کې دېره ده
دا رنګینه چارډره ده
دا حسینه چارډره ده

دلته ما له ښاپېرو نه
د حورانو کلام واورېد
دلته ما له پرښتو نه
د تاوده عشق الهام واورېد

چې ښکلا ترې څڅېدله
چې ښايست پرې نڅېدلو
ما له داسې خوږو خولو نه
د عشق توری واورېدلو

آخ، که دا د جنت حورې
وې د بل چا اندېوالې
"باتور" څوک و - "جوره" څوک و
چې د وی عشق ورسره پالې؟

کليوال عشق منزه وي
کليوالې چتې پاکې
د پردو نوم ګومان نه کړم
چې په خوله واخلي بېباکې...

يو سپور وايي:
قربان! موږ يو په دې تمه
چې صفدر شې د لښکرو
چې سالار شې د تورزنو
افتخار شې د زړه ورو!

زموږ ارزو ده چې په تا به
سر لوړی د خاندان وي

ولس تا باندې بسيا شي
وطن تا باندې ودان وي

مرابېګ:
دا زړې چاپلوسۍ پرېږدئ
زه په نور څه ناآګاه يم
يا به تخت وي را نه پاتې
يا به بخت راسره بيا يم

نصيحت کوئ بې ځايه
ملايي وعظونه څه کړئ !!
چې زما د زړه تکور شي
د وصال خبرې وکړئ !!!

سپور:
قربان ! يو خواهش منظور کړه
شهزاده:
نه خواهش منم – نه تمه
ما او مينه سره پرېږدئ
ورځئ ورک شئ را نه همه !....

څه شېبه سکوت حاکم شو
څوک آسمان ښاري – څوک ځمکه
لېونې فرمانروا دي
په حيرت کې ډوب دي ځکه

یو سپور:

نیمه شپه را نژدې کېږي
د کورونو ډېوې مړې شوې
څو به ناست یو په لو لار کې
ولې ورکې فیصلې شوې

"توردي بای" پېژنم خپله
زما د ډېرو وختو یار دی
هم د کلي بای او مشر
هم د ښکلې "زهرې" پلار دی

ځئ چې ورشو پسې کور ته
مور و پلار به یې، څه غواړي؟
شهزاده، چې د چا یار شي
قام – ټبر به یې پرې ویاړي

ستا "زهره" به کړو، ترې لاس ته
که په سمه – که په زور وي
څوک یې اوري، که فریاد کړي
لاس به یې سره – مخ به یې تور وي

بل سپور:
شهزاده ! درنه مې ځار کړې
ګودر څوک څاري؟ کمزوري

کوم بې وسه، چې زړه بایلي
نو پل زن شي لارې ګوري

ته د قوم سرا و سترګې
ته د هزکاله رڼا یې
ته د ټولو د سرتاج یې
ته د واړو تکیه ګاه یې

که د چا د سترګو مینه
ستا په سترګو کې غړېږي
که د چا د حسن مالکې
ستا په زړه باندې دوړېږي

که نامزاده وي- که پېغله
ستا له عشقه سپېلنۍ شه
چې به ستا په یارۍ ننګ کا
مخ یې تور، زړه یې لوګی شه

ظلم نه دی که یو نیم زړه
ستا د زړه په ځای ازار شي
ستا خوښي، د ټول ولس ده
ستا تر خوښې دې سل ځار شي !...

بل سپور وایي:
تر تېري او تجاوز خو

مرکه ورلېږل خوند کا
په نکاح- په درب و دروب يې
شاهانه ودول خوند کا

که دا اوس مرکه ورشو
دی به نور څه ته لا ګوري؟
کوم احمق به پټوي ځان
د هما مرغه له سيوري؟...

*

د اسونو ملونې تاو شوې
چې په دې يې امنا شوه
دم-دستي د خرګاه لور ته
د اسو د سوو درباشوه

ستړې مشې ورته ووې
"توردي بای" او سيمه والو
يوې جلا خرګاه ته يې بوتلل
په دستور د مېلمه پالو

ناوختې مېلمانه خوړ دي
لوی-واړهٔ، واړه اخته شول
چای-چلم يې ورته کېښود
د ډوډۍ په سرشته شول

"توردي قل" په منډه منډه
په عزت د مېلمنو دی
"مراد بېګ" د خيال په کټ کې
د "زهرې" په تماشو دی

دهاتي ښځې تکړه وي
په پخلي او په خدمت کې
پسه بيا پوخ او پلاو دم شو
ډوډۍ راغله، درنګ ساعت کې

"مرادبېګ" څه هوش پرک دی
په تکليف کراروي زړه
چې د تورو سترګو شوق يې
بې اختياره پاروي زړه

يو مېلمه:
کاکا! دا عاليجناب، چې
نن د تا د کاله لمر دی
د امير د سترګو تور، او
افتخار د لوی ټبر دی

شهزاده يې درته راوست
چې لرې د اقبال ستورې
پرې ځاربږه! درنه غواړي
ستا "زهره" د جمال ستورې

ښایسته په جهان کې پر دي
ښایسته تر ښایسته شته
د دولت باز پر تا کېناست
خوش قسمت دې وېنو زښته !...

توردي قل:
دا مې لو خوش قسمتي وه
چې امیر وینم په کور کې

خو ارمان، چې یوې سهوې
اوس کباب کړمه په اور کې

پخوانی حلقه بګوش یم .
په دې لطف به تل ویاړم
سر او مال مې درنه ځار شه
خو ، دا عفوه درنه غواړم

"زهرګۍ" به مې در ځار وای
خو ، نامزده ده ، له وخته
لا کمکۍ مې په نام کړې
خپل وراره ته دا بدبخته .

یو مېلمه:
شهزاده یې درنه غواړي
د وراره خبرې پرېږده

دود زما او ستا عملې دی
دا زړې سندرې پرېږده

خپل وراره ته به پيدا کړې
چېرته بله يوه دلبره
چې دولت يې په نصيب شي
"زهره" نه بيايې قمره

دا څه عار دی ! عار هغه دی
چې لور تيټ کاله ته ورکړې
افتخار دې دی کم بخته
د عزت تاج به پر سر کړې !

چې باچا يې سورلي غواړي
که سړی وي، بايد خر شي
په يوه "هو" دې، لور ورکړې
په يوې "نې" به لاس پر سر شي...

"توردي قل" کړه لاره ورکه
لور د لوره سړی سپک شو
حيرانۍ يې فکر يووړ
په نادودو کې ترې ورک شو

توردي قل:
قربان دومره درنه غواړم
چې فرصت راته عطا شي

يو دوه - ذرې ورځې مهلت، چې
دا وراره مې د لاسا شي

يو به مېنو ته ستانه شو
بل به کور او لور سمبال کړم
فرش و ظرف تهيه غواړي
چې پرې عذر سيمه وال کړم

شهزاده، چې د چا زوم شي
دا يو ډېر لوی افتخار دی
نو، هرو - مرو يې، مخ ته
هم لوی پېټی او لوی بار دی

مېلمانه، چې ورنه لاړل
"توردي قل" جوړه جلسه کړه
خپل - خپلوان يې کړه راغونډ، او
ورته شرحه يې کيسه کړه

پټ مجلس - پټه جرګه ده
پټ پسنی او پټ خواله دی
چې هر لور د کيسې ګوري
په ضرر د دې کاله دی

نه دا دود مني - نه شرعه
چې ورکړې، بل ته ورکړي

خو ، ځواب يې هم زړه غواړي
زورور خدای(ج) زور ورکړي

يوه خوا پاڼ- بله خوا پړانګ دی
حيراني اخيستي واړه
يا به کور پرېږدي يا دود ، او
يا په ټيټو سترګو دواړه....

هدیه

د تیارې زړه کېږدۍ بیا
د قدرت خاوند نختلې
پېڅولونه یې تیټ کړي
چاردره، شوه په کې غلې

د زړې کېږدې له سورو نه
شغلې ځای – په ځای، رالوېږي
که ماښام دی، په اسمان کې
لوی- واړه ستوري ځلېږي

رونه ستوري، لکه باغ کې
چې موسم د شګوفې وي
سپنې پاڼې يې له باده
تيت – پرک، څله پرتې وي

سپوږمۍ ورو - ورو راښويږي
يوه نکلي سپينه بېړۍ ده
د اوريځ غونډې ښکاريږي
چې د مياشت لومړۍ لسۍ ده

د اسمان ښايسته لور ده
زړه يې زړۀ سوال ته ولاړه
يا "زهرې" نه جلوه غواړي
صدفي کچکول په غاړه

توره شپه توره تياره ده
د سپوږمۍ رڼا هم تتته
وهمناک غونډې سکوت دی
ستوري رېږدي له هيبته

ښکلي ښار او ترې، چاپېر دي
د شنو ونو ، ګڼ باغونه
لو وړې سپينې ګنبدې
لکه بحر کې څګونه

څوک کتار - کتار ښکاريږي
لکه هار د ملغرو
څوک ښندلي لکه پرې شي
پر کټ هار د ملغلرو

پر شبنم پرېولي مځکې
دا د ستورو انعکاس دی
يا د دې سپينو ګنبدو
شنو باغونو اثر پاس دی

پر له پورې دي باغونه
ښار د ونو منځ کې جوړ دی
ژمي بوټي بې پيسو وي
دوبی سيوری لري سوړ دی

ښکلی ښار ښکلی ديار دی
د مالدارو - د بزګرو
لټېره په کې څوک نه شته
نه کوټې د مساپرو

ښار يې څه دی؟ څو دوکانه
نه سرايونه - نه هوټلې
نه دفتر شته- نه ديوان شته
نه واکمن شته، نه رټلې

نه چرګان، نه مرغان شته
نه د زرکو قفسونه
نه چرسیان شته، نه بنګیان شته
نه ښاري نور افتونه

که سیالي ده، په همت ده
که هوس دی، د سپرلو دی
شوق د پولو د پټو دی
عشق د مېږو یا د ورو دی

د بادامو شګوفې دي
لا په ګل او په غوره کې
مستوونکی بوی یې پروت دی
په دې نیمه چاردره کې

توردي قل او د ده کډه
بېرته ښار ته رالېښلي
نن درېيمه ده، چې ناست دي
په زړه داغ- په زړه ویشتلي

"توردي قل" لکه کوره ووځي
د اسمان ګردش ته ګوري
خو، هر دم ويني چې لوېږي
یو په بل پسې رونه ستوري

تور دي قل له ځانه سره وايي:
هره شپه به يو نيم ستوری
د اسمان له زړه جلا شو
موږ به وې: د چا د عمر
ستوری ولوېده، فنا شو

نن، چې ګورم ربه خير کړې
دم په دم يو ستوری لوېږي
دا په موږ او يا په نورو
څه بلا را نازلېږي؟

د اوو خويندو څرخی هم
دغه نن هسې چپه دی؟
که د دې شنه - اپوټه هسک
شامدام کار اپوټه دی؟

د جهان چا به يې ښه کړ
که کوږ هسک په خپله سم وای
بې نظمۍ به نه وې دلته
که يې ستوري منظم وای..

"تور دي قل" دم په دم وځي
د سپرو لارې ته ګوري
هسې نه، چې رالوېدلي
وي، د دوی د عمر ستوري

نن ګيڼ په خره – وره
څو مشران په ننواته
دي ولس او ده لېږلي
د مين شهزاده خواته

له ځان سره وايي:
ايا عذر يې منل شوی
د ميرانو مېلمانه دي؟
که د مير په قهر اخته شول
وږي – تږي ځولانه دي؟

که دا عذر قبول نه شو
د مهلت پلمه هم لاړه
زهره ورکه- که ځان ورک کړم
يا په زوم بنده کړم غاړه؟...

کله ننوځي په خونه
خړ – خړ ګوري مرکې ته
کله ورچني غوږ نيسي
لويې لارې او کوڅې ته

کليوال يې کور کې پنډ دي
يوه د پټې خولې جلسه ده
چې په خوله نه ويل کېږي
پېښه دارنګه کسه ده

سړي ووا ته جومات ته
د ماسخوتن جمه دربړي
چې دربا شوه د اسونو
څوک با راغله معلومېږي

د دربار څو اردليان، او
عذرخواه سپين ږيري ښکاري
د "توردي" د کاله خوا ته
چې را واوښتل له لارې

يو چرمي يخدان يې کوز کړ
چې انعام د شهزاده و
پټ اسرار وو -غټ انعام و
رټ پيغام د شهزاده و

يو سپين ږيري وايي:
شهزاده وي: مسلمان يم
دا مې پت نه شي منلای
د يوې ښځې دوه مېړونه
دا غيرت نه شي زغملای

خو، د ورکړې بهانې يې
اوتې -بوتې راته ښکاري

دا هدیه یې مخ ته کېږدئ
ګوندې حل شي واړه چارې

دا صندوق به ورښکاره کړي
چې "زهره" څوک ځنې غواړي؟
دا د هغه لاس تحفه ده
چې عفت ورباندې وياړي

دا زما د لاس نشان دی
د "زهرې" مخ ته یې کېږدئ!!
دا زما د زړه ارمان دی
د خرد حکم ته یې پرېږدئ!!...

ګوندې ورکې بهانې شي
په کې غور او سلا وکړئ
که منظوره دا هدیه شوه
نو په بیړه حال راوکړئ

دغه ننبه ده، یوه ننبه
زما د زړه له تقاضو نه
دا یخدان په خپله ډک دی
د پلمو له څوابو نه...

چې په دې یخدان کې څه دي؟
نه سپاره پوه دي – نه پلي
هر سړی اند ېښنو یو وړ
فکر یې هر پلو ته ځغلي

تور دي قل ویښ – ویده ناست دی
تنها سترګې یې غړېږي
تش کالبد ور نه جوړ شوی
نور په هېڅ هم نه پوهېږي

زر حجت د زر پرست دی
په یخدان کې به نور څه وي؟
یا به پوښ وي – یا به پسول وي
یا به سپین وي – یا به سره وي؟

اوس یې څه چاره په کار دَه
زورور، لاس ځنې ناخلي
د لوی کور به لوی سوغات وي
خو، په څه پوزه یې واخلي؟

که یې اخلي، پت بها ده
که یې رده کړي بلا ده
د دربار تحفه په هر حال
وېرونکې اژدها ده

يو سپين ږيرى وايي:
"تور دي قل" ماما ! ور پاڅه
د يخدان خوله خو کړه وازه
چې په دې کې، لا څه راز دى؟
پرده واخله، له دې رازه

"توردي" زړه - نا زړه ورپاڅېد
د يارانو په غوښتنه
چې يې سر د يخدان جګ کړ
نور يې مه کوئ پوښتنه

سور شو، سپين شو، ژړ شو، شين شو
لکه بل اور، په يوه آن کې
دا طلسم، که جادو و
که ښامار په دې يخدان کې

توردي:
نه جادو دى، نه طلسم
دا د لوى کاله پيغام دى
دا انصاف دى د غتانو
دا مذهب - دا يې اسلام دى

دا انعام دى د ميرانو
دا ځواب د زورور دى

نه ښامار دی، نه لړم دی
د .... "باتور" .... ځوانیمرګ... سر دی

یوه ژړا، یوه انګولا شوه
جوړ ماتم، په کلي باندې
له کورونو شوې، راپور ته
د ښځمنو سوې ساندې

چا د سر کوڅۍ شکولې
چا لمنې بزه کولې
څوک د نن په وير اخته وې
څوک سبا نه وېرېدلې

خو، د مير سړو ځواب غوښت
بې پروا له بورو – ورارو
په شدت يې، سوې وهلې
چې عادت وو، په دا چارو

يوه شيبه ژړا – غوغا وه
هر سړي واهه سر ځان ته
د کمزوري لاس رسېږي
ايله خپل سر او ګرېوان ته

د نفرت له احساساتو
غلبه راغله په حزم
چې د رزم توان نه و
قطعي شو ، د لېږد عزم

اردليانو چې حال وليد
د "کندز" په خوا سپاره شول
د ويرجنو کډې بار شوې
له وطنه اواره شول

***

دولی

د تیارې کېږدئ شوه ټوله
دا چې سور ښکاره شو، لمردی؟
که توردي کړه، یخدان پورته
د باتور پرې شوی، سر دی؟
***
په کندز کې اوازه شوه
چې جوړ شوی شرارت دی
له خراجه منکر شوي
"چاردرې" کې بغاوت دی

یوه ټولۍ د مفسدانو
د شیطان په لمسه ځغلي
اطاعت د اولوالامر
واجب نه ګڼي ناولي

لا په ښار کې، خلک نه وو
له کورونو راوتلي
د حصار خوا کې بیا ټول وو
بې شماره سپاره - پلي

چې د ټېکو زړونه، تش شول
د ټوپکو، ډک شول زړونه
د فرمان په انتظار دي
جنګ ته سوې وهي اسونه

د کندز د میر اعلان:
هلۍ، ژر شئ، د باغیانو،
د سرونو امېل غواړم
سر یې پرې، خونې یې ورانې
نراو ښځې یې ښکېل غواړي

هغه لوی ظالم پرېښږدئ
چا چې خپل وراره وژلی
سرغنه د فسادونو
چې اسلام يې دی کړلی

هلئ، ژر، په يوه منډه
هسې نه، چې درنه ووځي
کوچ و بار - کډې يې تم کړئ
چې "امو" نه پورې نه وځي

څوک به ورشئ، پر کورونو
څوک به غاړې - څوکې کسئ!!
څوک بيا ځئ، پر هغه بله
د آمو غاړه به نيسئ

چې د حسن په تاتوبي
ښکلا شوی، څه جادو و؟
نه مچۍ وې، نه يې شات وو
سپېره ځاله، تش کندو و

نه کورو کې، کورېنې شته
نه باغونو کې څوک ښکاري
تشې مېنې، تشې خونې
تش جومات او تشې لارې

نه بزګر په پولو ګرځي
نه مالیار شته د باغونو
نه د ځوانو شپنو دروي
اوریږد کیږي له راغونو

پسرلی دی، خو هوا یې
هوس نه شي پارولی
چې د ښکلو د نغمو ځای
د شوکمارو شور نیولی

نن په دې سره فضا کې
نه د چنګ نغمې خوریږي
نه د چا له زړه وتلې
ترانې په کې ګډیږي

چې د سرو شونډو له ځمبه
کوم اواز له چنګه پاځي
د ارزو د بزم ګل شي
او په زړونو باندې ناځي

چې د چا له سوي زړه نه
هله زار د مینې خپور شي
د هوا خپې کړي ګرمې
د هر چا د زړه تکور شي

درز و دروز دی، رانړېږي
د ارزو او هوس ځالې
د شوق مېنې – د عشق خونې
د رازونو انډیوالې

ببل، کلنګ، انتقام اخلي
له ولاړو د ېوالونو
د برچې په خوله غوښت کېږي
سره او سپین، له تشو خونو

سرې لمبې شوې را اوچتې
له غوجل نه تر جوماته
څه ایرې او خاورې – لوټې
شوې د ښار په مېنه پاته

هلته، ها خوا، په سرحد کې
د آمو دریا بهیږي
په پسته – شګلنه ځمکه
د ښامار غوندې تاوېږي

کال په کال په پسرلي کې
د "امو" اوبه مستېږي
چې بوی پورته شي، د ګلو
د جنون تلې تخنېږي

نن سبا لېوني شوي
د ځپان آمو نېزونه
د امواجو خولې يې لوني
لکه مست اوښان ځګونه

لېوني او مست موجونه
يو د بل په ځټ سپربږي
سيلابونه سياليګر دي
يو له بل نه مخ ته کېږي

د ويرجنو ګنې کډې
لېونو ځپو ته ګوري
که يې مستې ځپې پرېږدي
د سر امن ويني پوري

د دښمن د سپرو ګرد دی
نور د امن تمه لاړه
په کدو يا په تش ژي ده
د مردانو تکيه واړه

PROPERTY OF ACKU 12782

هلهله ده: تم شئ- تم شئ ! !
غلغله ده: ګرځئ - ګرځئ ! !
تقاضا ده: تښئ - تښتئ ! !
تمنا ده: غورځئ - غورځئ !...

چړب و چړوب دی په آمو کې
ټک و ټوک دی له بېدیا نه
نراو ښځې سین کې مینځي
د ژوندون تمه له ځانه

څوک یې ونیول په غاړه
څوک په بحر کې لاهو شول
څوک یې ویر ژاړي له ها خوا
څوک ملګري د آمو شول

د چا ژي مردکو سوري کړل
د چا غاړې په تبغ پرې شوې
د ساحل غاړه ګلګونه
د آمو اوبه هم سرې شوې

مراد بېګ په بیړه راغی
چې زهره وي ګوندې پاته
د ورک شوي زړګي هیله
پسې غواړي، شاو خوا ته

د ګودر د غاړې بطه
په جیحون کې لمبېدله
ترې حلقه - حلقه چاپېر وو
لپونو څپو ساتله

یوه ګېډۍ، زلفې یې ښکاري
د اوبو پر مخ توشپلې
د آمو ډولۍ کې لاړه
د باتور غېږې ته ښکلې

***

ځینې لغتونه او معناوې

لغت	معنا
مینجرې	نازو عشوې
خرګاه (د لومړي توري په زېر)	د ترکمنو خاصه کېږدۍ
شېدلی	ازارې، شوخ، بې لارې شوی
څوړ	کوز (له اس یا اوښ څخه راکوزېدل)
نجتلې (نون په سکون)	درولی
لېښل	کوچېدل
چرمې يخدان	لوی چرمي صندوق چې د سفر پر وخت به يو د اوښ يوې او بل بلې ډډې ته تړل کېده.